ورځپانه
شریعت
SHARIAT DAILY
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

شپږم کال ۷۲گڼه پرله پسې (٤٥٢) یکشنبه د۱٤۲۲هـ ق کال درجب (۱۳)
د ۱۳۸۰هـ ش کال دمیزان (۸) د۲۰۰۱ میلادی کال د سپتمبر (۳۰)

په پاکستان کی دافغانستان په ملاتړ لاهم مظاهری روانی دی

پیښور باختر:
په افغانستان باندی دامریکا احتمالی یرغل دغندلو په اړوندپرون دپنځومذهبی گوندونو دغړو په گډون دپاکستان داسلامی جمهوریت ددیره صوات دانگو په بازارکی یوه ستره مظاهره وشوه.
په دی مظاهره کی چی دمحترم قاری عبدالباعث صدیقی په مشری او دجماعت العلمای اسلام انفاذ شریعت محمدی اشاعت التوحید وسنت جماعت اسلامی او دحزب الله دزرگونو غړوپه گډون ترسره شوه محترم قاری باعث محترم مولانا فضل الحق محترم ملاخالد محترم سردارعلی او محترم حاجی خالق داد دموضوع په باب خبری وکړی او دافغانستان له خلکواو اسلامی امارت سره یی خپل ملاتړ څرگند کړاو ټینگار یی وکړچی مور دافغانستان دمظلومو او ځوریدلو خلکو ترڅنگ ولاړ یو او په افغانستان باندی دامریکا داحتمالی یرغل په صورت کی دکفار و پرخلاف دجهاد په لاره کی سرښیندنی او قربانی ته تیاریو.
٤مخ

الهی فرمان

ترجمه : تاونه لبدل چی ستارب په عادبانو باندی څه وکړل (دخپل دپر طاقت سره سره بی هلاک کړل)

PROPERTY OF ACKU
S 1789

دشلترناو دکارکوونکو محاکمه دوکیلدنشتوالی له امله ځنډیدلی وه

کابل – شریعت:
مسیحیت ته دبلنی په تور متهم دشلترناو موسسی نیول شوی کارکوونکی نن دخپل محاکمی په دفاع کی دوکیل نیو لو لپاره ستری محکمی ته حاضر یری له شریعت ورځپانی سره دستری محکمی رئیس او قاضی القضات محترم
٤مخ

درشفاخانه کارته سه جلسه دایرگردید

کابل – باختر:
جلسه ارشادی وتنویری دیروز به اشتراک طبیبان وکارکنان شفاخانه جراحی کارته سه دایرگردید.
دراین جلسه که تحت ریاست محترم مولوی فقیر محمد خنجری رئیس
ص٤

سوډان پرافغانستان حمله نه زغمی

خرطوم :
دسوډان هیواد دافغانستان په اسلامی امارت باندی دامریکا دمتحده ایالاتو دتوپک لرونکو په احتمالی بریدباندی په کلکه انتقاد کړیدی.
دبی بی سی راډیو دخبرله مخی دملگرو ملتونو په سازمان کی دسوډان هیواد استازی ویلی دی چی دامریکا متحده ایالاتو تراوسه
٤مخ

داحتمالی حملی په اړه په مظاهرو کی دخلکو تأثر :

پر افغانستان حمله به دسیمی هیوادونه هم غځیږی

کابل – باختر .
په افغانستان باندی دامریکا متحده ایالاتو احتمالی بریدونه پرون هم دهیواد دمرکز او ولایتونو په بیلا بیلو سیمو، کی دغونډو او مظاهرو په ترڅ کی وغندل شول .
په دغو غونډو او مظاهرو کی چی دعلمای کرامو جهادی قوماندانانو دقومونو
٤مخ

نیول شوی خبریالی خپل عمل احمقانه وباله

کابل – باختر
دلندن داکسپرس نیوز ورځپانی یوه ژورنالسته چی په غیر قانونی ډول زموږ هیواد ته راننوتی وه ورمه ورځ دخلکو په
٤مخ

دشپاړسمی ناحیی رئیس ملامحمد اکبرخان «رسولی» :

٤٠٠کورنی دبریښناله نور څخه برخمنی شوی

په قلعه زمان خان کی

کا بل – شریعت :
درنولوستونکمو ستاسی پام دهغی مرکی لوستلوته راگرځوچی زموږ خبریال له ښاغلی ملا محمد اکبر خان «رسولی» سره کړی ده په پیل کی محترم رسولی ددغی ناحیی داړوندو کارونو
۲مخ

دخلکو دذهنو نو دتنویر لپاره :

ټاکلی هیأت خپل کارته دوام ورکړی

کابل- باختر
دریاست الوزرا دمحترم مقام لخوا موظف هیات پرون دخوست له والی سره دکتنی په ترڅ کی د جنوب زون داړندو ولایتونو د بیلابیلو قومونو د مشرانو او استازو په غونډه کی گډون وکړ .
٤مخ

ډیری شیدی مه څښی

۳مخ

۳۹٦۱٠ هکتار زمین طی ربع اول سال جاری تحت بذر قرار گرفته است

درسال روان ۲۰۰ هزار اصله نهال مثمر و غیر مثمر توزیع شده است

مردم زمانی میتوانند چرخ اقتصاد کشور را به حرکت بیاورند که در فضای صلح و امنیت وبدون هرگونه دلهره زنده گی خویش را به پیش برند جنگهای که بالای مردم تحمیل شده بود این توانایی را از مردم افغانستان گرفته بود که متوجه تولیدات وپیشرفت امور اقتصادی کشور خویش گردندواینجا اگر
ص۲

مسابقات فوتبال

فاریاب – باختر
در تورنمنت خزانی فوتبال که عصر پریروز د ر شهر میمنه ولایت فاریاب راه اندازی گردید تیم فوتبال سعادت برنده مسابقه گردید .
در این تورنمنت که بین یازده تیم فوتبال از سوی آمریت تربیت بدنی وسپورت
ص۴

بادغیس

په قادس کی نظامی شورا غونډه وکړه

بادغیس – باختر
دبادغیس ولایت د قادس ولسوالی نظامی شورا پرون غونډه وکړه .
په دی شورا کی چی
٤مخ

امریکا پاکستان ته ۷.۵ ملیونه ډالر ومنل

واشنگټن – باختر
دامریکا دمتحده ایالاتو جمهور رئیس جورج دبلیو بوش د پنځه اویا ملیونو دالرو مالی مرسته دپاکستان داسلامی جمهوریت په واک کی ورکړیده دنړیوالو خبری منابعو دخبر له مخی ددغو پیسو پنځوس ملیونه ډالره به دپاکستان
٤مخ

دترورېزم پلمه دمسلمان ملت ځپلو ته یوه بهانه وسیله

۲مخ

هوشدار وزارت خارجه امریکا به اتباع آنکشور

واشنگتن
وزارت خارجه ایالات متحده امریکا بدنبال حوادث نیویارک وواشنگتن به اتباع آنکشور از وقوع حملات
ص٤

عکس: هلیکوپتری که در حادثه اخیر امریکا بوش توسط آن فرارنمود

سرمقاله

دلوی او بښونکی خدا«ج» په نامه

دایران دریغ به وستایو

په یویشتمه پیړی کی زمونږ هیواد افغانستان ته د یوه بل ښکیلاک اشتها راغلی او غواړی دمستبدو نظامونو او جاه طلبو دیکتاتوریو شومو نیتونو ته دغه نه ښکیلیدونکی خاوره ددی پیړی په مکرونو لاندی کړی او تر هر څه لومړی یی دمسلمانو !!؟ هیوادو دملاتړ په تر
۲مخ

په فلسطین له روان ناورین څخه

رام الله:
په نیول شوی فلسطین کی پرون او ورمه ورځ هم دفلسطینی مجاهدینو او دصهیونیستی یرغلگرو ترمنځ سختو نښتو دوام درلود .
ددغو جگړو په بهیر کی ۸ تنه مجاهدین شهیدان او په لسگونو تنه نورټپیان شول . دغه نښتی هغه وخت پیل شوی چی صهیونیستی یرغلگرو دغزی په ټرانگه کی په فلسطینی مظاهره کوونکو باندی ډزی وکړی دخان یونس په ښار کی هم ددوا ړو لورو ترمنځ نښتی وشوی چی دهغو په بهیر ی څوتنه مجاهدین ټپیان شول .
دیو بل خبر له مخی فلسطینی مجاهدینو ورمه ورځ د یرغلگرو په یوی پوستی او په یوی گرځنده گزمی باندی برید وکړل چی له دی امله یرغلگروته دسرزیانونه واوښتل.

دتلی په شپږ مه دکابل فتحه دجهاددارمانو نو تحقق دی

شـــــریعت

دتاسیس کال :۱۳۷۴ هــ ش

:دلیکوال هیئت ترنظرلاندی

مسؤول مدیر: مولوی اسدالله «حیدری»

مــرستیال: مـلامحمد ابراهیم «نبیل»

دیوی ګنی بیه:په هیوادکی(۱۰۰۰)افغانی په پاکستان کی (۳)کلداری

تیلفون :۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات:۶۲۸۵۹

پست بکس : (٤٧١)کابل افغانستان

جاری حساب : ٤٠٣٨٥ دافغانستان بانك مرکز

کمپوز: احمدجاوید «فقیری» چاپ : امارتی مطبعه

دسرمقالی پاتی برخه

لاسـه کولو لاس پوری کړ او مـسلمانو هیـوادونو هم په دی ابتـلاء کی خـپله مسلمـانی ښه څرګنده کړه که ډیرویی داسلام په پرتلـه وخت او شـرایط مـهم وبلل خو داسـی هیواد هم پکی پیدا شو چی دغه انډول یی ناسم او ځان تیرول وبلل او هم یی په دی برخـه کی په ښـه توګه غلی خطرونه درک کړل .

کـه څـه هم په هیـواد کی دربانی داداری له ړتل کـیدو وروستـه ایران ددغـی اداری خـــوا ونیـــوه او د افغـانستان دولس دنظام په وړاندی یی دغه ډلګی ښه ترخولی اکمال کړه او له دی لاری زمـونږ هیـواد پوره زیان هم ولید خو په افغـانستان دامریکا دیرغل په برخه کی دایران داسلامی جمهوریت دمشـرانو تګلاره هغه څه دی کوم چی دیوه اسلامی هیواد څخه یی توقع کیده ، لکه څنګه چی ددغـو مـشـرانو له څـرګندونو ښکاره شـو ه چی دښــمن اصـلاً دمسلمـانانو له منځه وړل غواړی دغه رنګه مونږ هم په دی عقیده یو چی په سیمه کی دمسلمانو هیوادونو خوندی توب دیوی ډلی او یوه ائتلاف په مـلاتړ کی نه بلکی دواقعیتونو په درک کولو او دولسـونو په ورورری کی پروت دی راځی له وخت څـخـه په اسـتـفـادی سـره دمسـلمـانانو په مـقـابل کی دنړیوالو توطئو په وړاندی اصلی لاره خپله کړو او دسیـمـه ییزو فـرعی ګتو په پرتله داسلامـــــی امــــت ګتی او ښـیګنی غـــــوره وبـــــولـــــو .

دتروریزم پلمه دمسلمان ملت ځپلوته یو ه ښه وسیله

تروریزم بنسټ پالنه او داراچونه هغه کلیمي او موارد دي چي کفري هیوادونه او استکباري قوتونه دخپلو هدفونو دتامینولو په خاطر له هغو څخه استفاده کوي او دوژونکي وسلي په توګه په خپلو مخالفینو باندي ګوزار کوي.

که چیري مستضعف هیوادونه دخپلو روا حقوقو د تر لاسه کولو دربیـــــتــــبني آزادي دګـــتـلو او داستعمار له جغ څخه دخلاصون په خاطر خپل غږ پورته کړي استکباري قوتونه له دغو کلمو څخه په استفاده سره په دغو هیوادونو باندي تورلګوي او ددغـو هیوادونو دخلکو دځـبني زمـــبني برابروي چي روښــانه او څرګندمثالونه یي په دغو پلمو په وروستي نیمه پیړي کي په نړي کي زبات لبدل شویدي.

عراق ، ایران ، لیبیا ، چیچنا ، سودان ، الجزایر ، فلسطین او کاسووا مــسلمـــانان ، دمنځني آسـیــا د هیوادونو کشمیر او دنورو هیوادونو مــسلمـــانانو هغـه ملتـونه دي چي داستکباري قوتونو ددغو توطئو اودسیسو قرباني شویدي.

په افـغـانســتـان کی داسلامي امارت په تهڼګښت او دبري او حدي اوتینګي مـرکـزي اداري په جـوړیدو سره داسلام دښمنو او افغان دښمنو هـیـوادونو پانګي او پلانونه په اوبو لاهوشــــول .نو له دي امله دغــــه هیوادونه دتورونو دلګولو او دپلانونو دطرحـه کـولو په لټـه کي شـول چي دافـغـانـســتـان اســلامي امــارت کمزوري او تجرید کړي او په سیمه کي دخپلو ســتـراتیـږیکي هدفونو دتحقق او عـملي کولو زمـبني برابري کړي .

استکـباري قـوتونو بوخل بیا له همدغو وسلو څخه کار واخیست او دمخدره موادو دقاچاقو دبشر دحقوقو دتربیـنو لاندي کـولو تروریزم بنسټ پالني او داسامه بن لادن دشته والي په شان بي په افغانستان باندي بي بنـسـتـیه او ناروا تورونه ولګول او په افغانستان باندي بي غیرعادلانه او بو ارخـیـزبندیزونه نافـذ کـړل دغـو قوتونو په دغو تورونو هم بسوالي ونه کړاو په امریکا کي دوروستیو پیښو ملامـتي چي ددغه هیواد دکورنیو ستـونزو زیږنده ده هم دافـغـانسـتـان داسلامي امارت په اورو واچوله او په افغانستان باندي داحتمالي برید ونو ګواښونه کوي.

پیداسي حـــــــال کي چي دصهیونیستانو او نورو په ګډون په دغو استکباري قـوتونو پوري تړلي هیوادونه هرناروا عـمل چي ترسره کوي دمعقولیت صیغه ورته ورکوي هیڅکله دتروریزم دار اچوني او دبنسټ پالني تورور باندي نه لګول کیږي.

حقیقت دادي چي داسرائیلو دولت دفلــــسطـین دخـلـکـو پـــه وړاندې پارتایدبریښـد ســیـاسـت تعـقـیبوي خو څرنګه چي دامریکا دمتـحـده ایالاتو په مـشـري په استکباري قوتونو پوري تړلي دي له دي امله دغه صهیونیستي رژیم په وړاندي دهرراز تندي لهـجي له استعمالولو څخه ډډه کیږي.

داسلام مبین او مسلمانان چي دربیتني ازادي د تر لاسـه کـولو او دخـپلو عـقـیــدتي او جغرافیایی پولو دساتني په خـاطر دبرغلګرو او تیـري کـوونکو پر خلاف په جهـاد لاس پوري کوي څرنګه چي له استکباري قوتونو سره فکري او عقیدتي تضاد لري نو تر ورست بلل کیږي بهودیان نصرانیان او هندوان چي په دغه شان فکري تضـاد کي ندي هیڅکله دتروریزم تور وربـاندي ندي لګول شـوي .

۳۹۶۱۰ هکتار زمین طی ربع اول ...

فـابریکه فـعـال مـیګردید اګرپلی و یا سـرکی احداث مـیـشـد هنوز کـارآن به تمام نرسـیـده به آتش توپ و بم بسته میشد و ازبین میرفت ، بناً هیچ افغانی توانایی آنرا نـداشـت تـا بـه آن وضـع ناهنجار به اقتصاد،زراعت و پشـرفت کـشـور خـویش دل ببندد وکار وفعالیت نماید.

امـا پس از فـتح هر ولایت کـشـور توسط مـجـاهدین و اردوی امارت اسلامی فضای صلح وآرامش درآنجامستقرو بخشهای تولیدی و زراعتی آن یـکـی پـی دیـګـری بـه بازسازی ګرفتـه شده وحتی شعـبات تولیدی دیګری نیز هم افـتـاح ، هزاران جـریب زمـین لامـزروع تحت کـشت قـرارګرفتـه وهزاران همـوطن بیـکار مـا دراین شـاپ ها وزمـیـن ها مـصـروف کـار روزمره خویش ګردیدند.

روی این ملحوظ خبرنګار روزنامـه صـحـبـتی نموده بامحترم الحاج عتیق الله «عتیق»معین وزارت زراعت و مـالداری کـه ذیلاً تقـدیم خوانندګان میګردد.

مـحترم الحاج عتیق الله «عتیق»درمـورد کارکرد های بخشهای مختلف این وزارت چنین معلومات داد.

دربخش ترویج زراعتی:

مـجـمـوعـاً ۳۹۶۱۰ هزارهکتار زمین طی ربع اول سال ۱٤۲۲ تحت بذرو کشت قرارګرفته است که از جمله قـابل کـشـت ۷۹۱۰ هزار هکتـــــار تحت کـــشت (۳٤۶۹.۳)نباتات مـوقتی ۱۵۶۷.۳ نبـاتات دایمی ، ۱۷۶ اراضی تحت کـشت آبی ۱۲۱۱.۳ اراضی تحت کشت للمی ٤۳۲ اراضی علفچرها وچـمـن هـا ۳۰۰۰۰ اراضـی جـنـګلات ۱۷۰۰۰ هـزار هکتـار زمـین را احـتـوا مینماید.

همـچنان مقـدار ٤۹۶۵۰ تن کـود کـیـمـیـاوی یوریا مـقـدار ۱۲۹۲۰ تن کـود کـیـمـیـاوی فـاسفـیت دار وهمـچنان به ارزش ۳۲۷۸۰ ملیـون افغـانی ادویه جـات زراعـتـی ووسـایل کـوچک زراعـتی توسط مـامـورین مــسلکی مــربوط وزارت زراعت ومـالداری بدسـترس دهاقــین کــشـور غـرض جلوګیری از امراض وازدیاد مـحصـولات زراعتی توزیع ګردیده است.

بـاید یاد آورشــد کـــه مـجـمـوع عواید که طی ربع اول سال از مدرک خدمات مـیـکانیـزه زراعـتـی عـاید امارت اسلامی ګردیده بالغ بر ۶۳۵۶۱۹ افـــغـــانی میباشد.

همـچنان انسـتـیـتـوت تحقیقات زراعتی باداشتن ۹ ستـیـشـن فـعال تحـقـیـقاتی درحدود ۳۵ تجربه تحقیقاتی را بالای غلـه جـات نبـاتات صنعـتی،نبـاتات پلی دارو سبزیجات،میوه جات انجام داده ازتو آوری کـه از تجـربه های تحقیقاتی پرسونل علمی وفنی زراعت درزمینه صـورت ګرفتـه است دوباره بدسترس و درخدمت دهاقـین کـشـور قرارداده میشود.

دربخـش وترنری طی ربـع اول ســـــال جـــــاری بـه تعـــداد ۶۳۷۰۷۱ فـرد راس وقطعـه حـیـوانات وطـیـور تداوی ووقـایه ګردیده است و بـه تعـــــــداد ٤۹۶٤٤۰ دوزواکـسـیـن های مـخـتـلف حـیـوانی تولـیـد ګـردیده همـچنان ۱٤۹۰ مـعـاینه لابرتواری بالای حـیـوانات مختلفه صورت ګرفته است و به تعـداد ٤۹۱۰۸۱ لاشـه محصـولات حیوانی کنترول ګردیده است.

وزارت زراعت ومـالداری درپهلوی سایر خدمات بشری خویش طی کمپاین خزانی سـال ۱٤۲۱ مـقـدار ۹۵ تن ګندم بذری خزانی ومـقـدار ۱۸۵ تن ګندم بذری بهـاری برای بهـار سـال ۱٤۲۳ از طریق مامورین فنی وزارت زراعت طور انفـرادی بالای دهاقـیـن کـــشـور توزیع ګردیده است.

دربخش حفاظه نباتات:

طی ربع اول سال جاری به تعـــداد ۲۳۶۸ هزار اصله اشجار مثـمر و غـیـر مثـمر بشمول تاکها مجادله علیه افات و امراض آنها صـورت ګرفتـه و همـچنان مجـادله علیـه آفـات سـبـزیجـات ،حبـوبات ،پخـتـه ولبلبـو درحـدود ۱۲۶هزار هکتـارارا احتوا مینماید.

ومجـادله علیـه موشهای مضـره زراعتی مجادله علیه آفات ګدام ها،مجادله علیه ملخ های مضـره به هزار ها هکتـار مـیـرسـد وعـواید حاصله از سرتفکیت نباتی طـی ربـع اول ۷۷۶۰ هـزار افغانی بدست آمده است.

هاکـــــذا طی ربع اول سـالجـاری ۱.۷ ملیـون هکتار ساحه جنګلات و ۳۰ ملیـون هکتـار سـاحـه علفچرها حفاظه ونګهبانی ګردیده است .

درحـــدود ۲۰ هکتـــار جنګلات جـدیداحـداث و درحـدود ۹ هکتـارقـوریه جات احیا ګردیده است به تعداد ۲۰۰هزار اصله نهال وبه تعـداد ۵۰ هزارقلمـه غرس ګردیده است وهمچنان عـرضـه و فـروش نهـال به موسسات امارتی واشخاص انفـرادی درحـدود ۲۰۰ هزار اصله را در مـرکـز و ولایات احتوا میـنـماید.

باید خـاطر نشان ساخت که طی ربع اول سالجاری به تعداد ۲۲ تختـه کـاغذ تخم پیله وری کـاوری برای کـاغذ به تعداد ۱۸ تختـه تکه یی تخم پیـله مـادری تجـارتی تولید ګردیده است.

درحدود ۱۲ فامیل زنبور های عـسل استـاک فـامیلی پرورش و نـګهـــــــداری ګردیده اســـت.

وبه تعداد ۸ فامیل زنبور-تکثیر ګردیده است کـه جمعاً بیـست فـامـیـل را احـتـوا مینمایدومقدار ۶۱ کیلوګرام عسل تولید ګردیده است.

بـه تعــداد ۲۳۰۰ فــرد حیـوانات درمـرکـز وولایات کشور القاح مصنوعی ګردیده است .

به تعـداد ۸ فرد ګـاو تحت تربیـه وپروش قـرارګـرفـتـه است.

به تعداد ۱۰۱ قطعه مرغ تخمی تحت تربیه قراردارد که از آنـهـا درحــــدود ۹٤۸ بیـــضــه تخـــــــم بدستهآمده است.

مصاحبه کننده :

عبدالبصیر

په قلعه زمانږ خان کی څلورسوه ...

او پرمختګونو په هکله داسي وویل :داچی دشپـاړسـمی ناحیی ریاست دروان کال په تیرو شپږو میاشتو کی نه ستړی کیدونکی هلی ځلی کـړیدی شـپـه او ورځ یی پرځــــان یوه کــړیده او دخپلومومنوهیوادوالو دستونزو دحل لپاره یی هیڅ قسم دریغ ندی کړی او نه به یی وکړی او تولی ستونزی به دور وری په فضاکی سره حل کوو.

دی زیـــا تـــو ی چـــی دوروستیو خپل منځی جګړو له امله دقلعـه زمـانخـان دبریښنا برج په بشپړه توګه له منځـه تللی وه چی ددغی ناحـیی داوســیـدونکو په مـرستی او داوبو او بریښنا وزارت په خاصه پاملرنه او دنومـورری ناحـیی دهڅـواو هانـد له امله بیــــرته جورشوچی له کبله یی اوس څلورسوه کورنی دبریښنا له نور څخه استفاده کوی او دالړی دوام لری .

محترم رسولی زیاته کړه چی دروان کـال په لومـړیو دووربعــویا څلوریزو کی دملکیتو نو مدیریت لاندی کارونه سرته رسولی دی :

۱- دیرش کـــوروته یی قیمت ګذاری کړی .

۲- څلورکـــوروته پلورل شوی .

۳- اته دموټرو دمینځلو ځـایونه یی چی قـانونی مراحل یی سرته رسیدلی ؤفـعـال کـړیدی او پنځلس کـانتـینری غـرفی یی په مناسـبو ځـایوکی ځـای پرځای کړیدی.

همـــدارنګه دپاکـــولو مدیریت ۲۹۰۶ متره مکعب کثافات دنومړری ناحیی له مربوطا تو څخه دموټر و په واسطه پاکلی ځای ته وړی.

ده داهم وویل چی دنومړری ناحیی په مربوطاتوکی هغه اوره تنورونه نهه قصابی نهه سقـاوی چی فـعـالیت لري دموظف هیئا ت لخوا دنرخو نو دڅارنی له کبله کنترول کیږی او سرغړونکوته لازمه جزاو رکول کیږی .

ددغی ناحـــیـی اداری مدیریت دګذردو کیـلانو په واسطه دمنطقی دستـونز و دحل په باره کی دیولړادارو سره غـوږ جنګـولی چی پدی ورستیـو وختـوکی دویالو دپاکـو لولپـاره یو شـمیـر هیوادوال دهیـئـات خیـریه موسسی ته ور پیژندل شوی چی دکـــار په بدل کی ورتـه پاکلی اندازه غنم ورکوی.

په پای کی مـــحــتـــرم ملامحمد اکبرخان «رسولی» پدی خبره ټینګار وکړچی په پام کی لرو دقلعه زمان خان دساحی سړک په اساسی ډول جوړاو ترمیم کړو دغه راز دناحیی لپاره یو تعمیر جوړکړو همدارنګه په نظر کی لرویـو پـل چی ورتـه ډیـر ضـــــرورت لیـدل کـیـږی دپادشاه دپله په ساحه کی جـــوړکړو.

پـــه دی اړه له بهرنیو او کورنیـو موسسـاتو سره هم موږ تماس نیـسوچی دهیـواد والو دستـونزو دحل لپاره له موږ سره لازمی همکاری او مرستی وکړی.

حمید الله «عالمی»

دساینس نړۍ

تودوخه او درملنه

دتودوخې له امله د ناروغی دراپیدا کیدو او خطرنه دځان دخوندي کولو له پاره زیاتې لارې چارې شته ، دساري په توگه : څومره چې کولای شو باید له لمره لیرې و او سر او په لمرکې له گرځیدو ډډه وکړو .

سړې او به زیاتې وڅښئ ، پراخې او سپکې جامې واغوندئ اودتودوخې له امله دراپیدا شوی ناروغۍ له بیلابیلو نخښو سره ځان بلد کړئ ،کوم څوک چې په دغې ناروغۍ اخته وي دزیاتې کمزورتیا او ستړیا احساس کوي او ښایي په تگ راتگ کې ستونزې ولري.

دغه ناروغي دزړه دچټک ټکان ، دساه کښلو ستونزې ، سردردي او په سینه کې د درد دراپیداکیدو سبب گرځي.

طبیبان وایي: څوک چې له دغه شان ستونزو سره مخامخ شي باید سړې سیمې ته ځان ورسوي او استراحت وکړي او زیاتې یعنې هر کله سړې او به وڅښي .

دغه ناروغي په چټکۍ سره پرمخ ځي او کیدای شي په څو ورځوکې مو ناروغه کړي.

طبیبان وایي : که چیرې دبدن دتودوخې درجه دسانتي گراد له دوه څلویښتو درجو زیاته وي دبدن غړي غیر نورمال وي او ماغزو ته دزیان رسولو سبب کیږي او په پای کې مړینې رامنځته کوي.

څرنگه چې تودوخه په بدن کې داوبو او مالگو دکمښت سبب گرځي نو که څوک کمزوري او زیاتمن زړه ولري او دوینو دفشاراو دوینو ددوران دنورو مشکلاتو له امله خوږیږي دگرمۍ فشار ورته ډیر خطرناک دی ، د زړه او مغز و د سکتگۍ سبب گرځي ، دغه ناروغي ماشومانو او هغو بوډاگانو او زړو کسانو ته چې دشکرې په ناروغۍ اخته وي او یا هغه کسان چې ډیر څاربه دي هم ستونزې ورپیښوي .

ماهران وایي : او به په بدن کې دروغتیایي دلایلو له مخې ډیرې مهمې دي مگر خوږې او بې اوچای بدن ته ژر نه جذبیږي نو ډیره ښه لاره دسړو او بو څښل اود زیاتو او ثقیلو خوړونه ډډه کول دي

قلندري

ډیری شیدې مه څښئ

شیدې یا شوده دماشومانو ځانگړې خواړه دي او لویان یې ژرنه شي هضمولای.

په لویانو کې دشیدوکلسترول دهغوی په رگونو کې را ټولیږي او درگونو دبندیدو سبب گرځي ، خو لږ اندازه خوړل یې دلویانو له پاره زیان نه رسوي په دې شرط چې لاندې ټکي هم په پام کې ونیول شي:

۱- شیدې باید ورو ورو او غړپ ،غړپ وڅښل شي.

۲- هرڅومره چې کیدای شي بایدشیدې سړې وڅښل شي.

۳- غوړترې لرې کړئ.

٤- له غوښواوهگیوسره یو ځای یې مه څښئ.

٥- له شیدوڅښلو وروسته دنوروخوړو له خوړلوڅخه ځان وژغورئ.

باید ووېل شي چې له وچې ډوډۍ سره یې څښل بې زیانه دي . طب پوهان وایي: آزمایښتونو ښودلې ده چې زیاتې شیدې خوړل دسرطان له راپیداکیدو سره مرسته کوي. ق صبور

انسانها تاچه اندازه می توانند عمرکنند

قرن بیست شاهد طول عمر درکشور های صنعتی جهان بود . امروز تعداد زیاد مردم جهان تا یکصد سال عمرمی کنند و اوسط طول عمر از هنگام تولد دراین کشورها به هفتادوشش سال رسیده است . چنین میلان تا چه مدت ادامه خواهد یافت ، آیا طول عمر صد سال و یا بیشتر درکشور های ثروتمند یک امر عادی خواهدشد .

عقاید دانشمندانیکه دراین رشته تحقیق و کنجکاوی دارند دریک کنفرانس سالیانه (انجمن امریکایی برای پیشرفت ساینس) که در شهر سانفرانسسکو دایرشده بود ازهمدیگر بسیار فرق داشت. ده سال قبل تحقیقات علمی بدین استوار بود که درکشور های ثروتمند اوسط طول عمر انسان یکصدسال می باشد اما این نظر امیدوارکننده نبود .

بررسی وفیات نشان داد که حدود بلند ترطول عمر انسان ها هفتادو پنج سال است این عقیده هم از سوی اندیشمندان بدبینانه تلقی شد . بررسی دیگری حاکی از این بود که درکشور های جاپان وفرانسه اوسط طول عمر بعداز سی وپنج سال به هفتادو پنج سال خواهدرسید و درامریکا چنین تحولی یکصدو پنجاه سال را دربرخواهد گرفت . دانشمند دیگری استدلال می کند که اوسط طول عمر راحتی توان به بیشتر از نودسال افزایش داد . ولی واقعیت امراین است که اوسط طول عمر درکشور های افزایش می یابد که درآن ها پیشرفت های بزرگ در بهبود وضع زندگی انسان ها رخ میدهد . **شاگرد.**

انتی بیوتیک یا دمیکروب وژونکو درملو زیانونه

کله چې دلومړي ځل له پاره انتی بیوتیک یا میکروب وژونکی درمل جوړ او بازارته وړاندې شول دناروغیو پر درملنه کې یې داغیزو له پاره دومره تبلیغات او لیکنې وشوې چې آن ځینو کسانو په خپل سربې له دې چې کومه ناروغي ولري هغه پیچکاري کول او خوړل .

خو دلږ وخت له تیریدو وروسته په ډاگه شوه چې کله

کله دغه درمل ډیر خطرناک او وژونکي دي.

یو شمیر امریکایي طبیبانو دهغو کسانو وینه چې میکروب وژونکي درمل یې استعمال کړي و ترآزموینې لاندې ونیوله او دې نتیجې ته ورسیدل چې په دوام لرونکې توگه ددغو درملو استعمال او کارول په وینه کې مهم بدلونونه رامنځته کوي .

نتیجو ښودلې ده چې کلورومیتسین ترټولو زیات دوینو دسروگلو بولونو دخرابیدو او دوینې دکمښت سبب گرځي بر سیره پردې ثابته شوې ده چې دنوي کورنۍ یو ډول میکروبونه تولیدوي چې دغه درمل په هغونه یوازې اغیزه نه کوي بلکې کله کله دهغوله ودې او پراختیا سره مرسته هم کوي.

داعتماد پیاوړی کول او دډارله منځه وړل

واحدالدین «وردود»

اعتماد انسان ته طاقت ورپه برخه کوي او په ټولنه کې موقف لوړوي خو ډار نه یوازې دانسان موقف ته صدمه رسوي بلکې ډاردانسان دشخصیت ارکان هم ورانوي .

کله ناکله د انسان نږدې دوستان داسې نصیحت کوي: « دا یوازې ستاتصوردی چې ډاریږې نه کومه حقیقي موضوع » خو علمي څیړنې ښیي چې که ډارنه وای نو انسان به زیات زیانونه لیدل خو ډارترډاره پورې توپیرلري له وحشي حیواناتو څخه ډارگټور ډار دی له ناکامیو څخه ډاراوله هغو څخه مخنیوی گټور ډاردی خو له واقعیتونو څخه ډارکړ م چې عیني بنیاد لري دانسان اراده او پرځان اعتماد کمزوري کوي او یا یې له منځه وړي.

گویته یو سترجرمني پوه وایي: « . . . . . . که انسان زړه ورتوب له لاسه ورکړ داسې معنی ورکوي چې خپله ټوله هستي یې له لاسه ورکړې وي ډار د انسان دښمن دی ، ډار د انسان روغ صورت ته زیان رسوي او ناروغه کوي یې ډارن انسان خپله اراده نشي بیا نو لې او وروسته بیا اسویلي باسي »

دروحیاتو پوهان په دې عقیده دي چې ډار (غیر منطقي ډار) یوه روحي ناروغي ده نو ښایي هسې چې عضوي ناروغي تداوي کیږي دغه ناروغي هم تداوي شي .

تاسې حتماً داسې کسان لیدلي چې دپوهانو په نظر ددوی له څیرې، کړووړو اوخبروڅخه داعتماد او پرځان باورنښې نښانې ښکاري او برعکس داسې کسان هم وینې چې له ډاره خپل ژوند ورباندې تریخ وي (کله چې دډار کلمه استعمالو و مقصد موغیر منطقي ډار دی) باید پردې حقیقت وپوهیږو اعتماد او پرځان باورله ور کتوب څخه دسړي په وجودکې نه وي کوچنیان له هرشي څخه ډاریږي خو دکلونو په تیریدو سره معمولاً دوه حالته منځ ته راځي یا له دې کوچني څخه زړور انسان جوړیږي او یا ډیربې زړه او روحاً کمزوری انسان په دې توگه زړه ورتوب په تدریج سره دانسان په وجود کې وده کوي او په همدې ډول د ډار داحساس یو ستر پوه وایي: دډار دله منځه وړلولپاره اساسي او بنسټیزه تداوي عمل دی Action does cure fear کله چې انسان له کوم سخت پرابلم سره مخامخ شي باید تفکر او سوچ وکړي نه تشویش ، تشویش دانسان عصبي سیستم ته زیات زیان رسوي او بیا عمل وکړي دعمل لپاره امید یو پیل دی Hope is a Start . But hope needs action to win ricties یعنې سره لدې چې امید وي خو عمل ته ضرورت شته تر څو کامیابي او فتوحات لاسته راشي د ډار د تداوي لپاره بله لاره داده چې ډار وڅیړل شي او تجرید شي بیا نه یوازې دانسان روحي بوج کمیږي بلکې د ډار دازالې لپاره هم لارې چارې لټول کیږي .

باید په یاد ولرو چې اضطراب ډار زیاتوي خو له بلې خوا څخه سړه سینه او منطقي سنجش د ډار ابعاد لنډوي ، تجرید کوي یې او بیا له منځه وړل یې اسانه کار دی .

قاطعیت د ډار بل دښمن دی ډیر به مو اوریدلي وي چې وایي : « زمونږ آمر قاطع انسان دی » او امریې قاطع دی ځکه پوهیږي چې څه لیکي او څه وایي . نو دلته ده چې دډار له منځه وړلو لپاره اساسي عامل پوهه ده چې د قضاوت ساحه پراخوي ، عقل دموضوع ریښې ته داخلیږي موضوع تجزیه کوي او واقعیت ته رسیږي او بیا ډار منطق نشي پیدا کولای یو پوه وایي :

داساسي مغز دولس بلیونه حجرې لري او لکه یو بانک دی . هره ورځ تاسې دې بانک کې لکه چې بډای خلک بانکونو کې پیسې ذخیره کوي تاسې هم دخپل مغز په بانک کې افکار ښتوئ او ذخیره کوئ»

کله چې له یوه مشکل سره مخامخ کیږې دې بانک ته رجوع کوئ او له هغه څخه پوښتنه کوئ چې دې باره کې څه معلومات لرئ؟ دغه پروسه دومره سرعت لري چې تاسې ورته ډیر ژر متوجه کیږئ او دلوی خدای «ج» نعمت دی چې انسان ته یې دغسې یوه هستي (پیاوړی مغز) ورپه برخه کړې . پدې ډول ستاسې مغز خپلې فکري ذخیرې ته مراجعه کوي او اړونده موضوع پورې تاسې ته راز راز معلومات وړاندې کوي او ستاسې دنوي فکر لپاره اومه مواد برابروي .

موضوع به لږه خلاصه کړو،داعتماد او په ځان باور لپاره دې لاندې موضوعاتو ته که پام وساتل شي ډیر گټور دی:

۱- کوښښ وشي چې مثبت افکار مغز کې ذخیره شي نه منفي زیان راوړونکي افکار .

۲- له خپل مغز څخه وغواړئ چې یوازې مثبت او ښه افکار تاسې ته وړاندې کړي . پدې ډول اعتماد او پر ځان باور پیاوړی کیږي .

زمونږ تاریخ ددیرو نومیالیو شخصیتونو څخه ډک یو تاریخ دی چې په خاصه توگه په جنگونو او مصیبتونو کې ځلیدلی دی . که ددوی کارنامو ته پام وکړو عادي اشخاص نه وو او نه یې غیر منطقي ډار او تشویشونه لرل او ټولو یې پر ځان باور او اعتماد درلود او دلوی خدای «ج» په نصرت سره ستري کارنامې یې تر سره کړې او ترمونږه یې د تاریخ په زرینو پاڼو کې ولیکل شول .

تبادله داشته های علمی طبی توسط انترنت

باآنکه انترنت وسیله گمراهي وعریاني است ولی با پیشرفت ساینس وتکنالوژی درجهان امروز داکتران نخبه مراکز کمکهای طبي جهان یک شبکه جدیدی را درصفحه انترنت ایجاد نموده اند که درخدمت طب ومریضداران قرارمیگیرد.

بیش ازیک هزارتن از علمای طب درایالات متحده امریکا و موسسات طبي متحد با آن می خواهند آخرین دانستنی های علم طب را درخدمت بشر از فرسخ ها راه دور قرار بدهند.

این دسته از داکتران جهان معتقدند که تبادله این اطلاعات طبي از آن جهت حایز اهمیت است که محققان طبي در جهان سوم به سرعت وسهولت قادر به تهیه دانش مربوط به آخرین فرآورده های طبي کشورهای پیشرفته نیستند .

صفحه جدید انترنت که درخدمت طب قراردارد هرشبانه روز یکبار با اضافه ترازان اطلاعات جدید باعکس ها و تصاویر وکتب جدید را درجهان تبادله می کند. **شاگرد**

دکهربا هنرونه

لکه څنگه چې له نامه څخه څرگنده ده دا ددلته یوه خصلت لرونکې ماده ده چې وابنه او نور نباتات او همدارنگه وړین او سپینین سبک شیان ځان ته جذبوي او په خاص ډول دکهربا د جذب قوت هغه وخت لا زیاتیږي چې په کوم وړین ټوکر وموښل شي .

دکهربا په باب په پخوا زمانو کې ځینې عجیب عقاید او تصورات و ، په پخواني روم کې خلکو عقیده درلوده چې که چیرې پهلوانان او سربازان دکهربادانې په غاړه کې واچوي او یاله دغې مادې څخه جنگي کالي جوړ کړي نو په جگړه کې به هیڅکله له ماتې سره مخامخ نه شي. نو له همدې کبله وچې سربازانو به دجگړې په وخت کې په کهربا پوښل شوي کالي اغوستل او دکهربا امیلونه به یې په غاړه کې اچول ځینې خلکو داسې عقیده درلوده چې که څوک کهربا له ځانه سره ولري ، هیڅ مرض درداوځیښه ساه پرې اغیزه نه کوي.

رومیانو له کهربا څخه په طب او طبابت کې هم پراخه استفاده کوله ، دغه وخت حکیمانو او طبیبانو به ناروغانو ته سپارښتنه کوله چې دکهربادانې په غاړه وځړوي دسترگو دناروغیو دعلاج لپاره به یې کهربامیده کوله او له شاتو او دگلاتو له شربت سره به یې یوځای کوله او گیډه به یې ترې اخیستله .

دتولسمې پیړۍ ترورو ستیو وختونو پورې دکهربا له مرهم څخه دټپونو اوزخمونو په علاج کې استفاده کیدله له ډیرې مودې راهیسې له کهربا څخه زینتي ډیر ښکلي شیان جوړیږي او د استفادې ورگرځي . ویل کیږي چې کهربا له میلاد څخه اته زره کاله مخکې هم دخلکوله خوا په بیلابیلو ډولونو استعمالیدله او دشمالي اروپا په ځینو هیوادونو کې دکهربایي شیانو دجوړولو صنعت پراختیا موندلې وه سوداگرانو به دغه ماده اوله هغې څخه جوړشوي ښکلي شیان نورو هیوادونو ته دپلورلو لپاره وړل او لکه دسرواو سپینو زرو غوندې یې په راکړه ورکړه کې ونډه مهمه وه .

له کهربا څخه په صنعت کې هم پراخه کچه استفاده کیږي او له هغې څخه تسبیح جوړیږي دکهربا لومړنی ټوټه د «گوسین» په نامه یوه سیمه کې لاس ته راغله ددغې ټوټې دعمر اوږدوالی او زرینت دڅیړونکو لخوا څلویښتو ملیونو کلو په شاوخواکې اټکل کیږي .

کهربا د توري بحیرې په جنوبي برخو کې په پراخه اندازه پیداکیږي همدارنگه په امریکا ، غربي اروپا ، درومینگن هیواد د روسیې دکالینگراد په سیمه او ځینې نوري برخې ددغې مادې دپیدا ښت سیمې دي . **امین**

په پاکستان کی ...

دمظاهری په پای کی دوی دافغانستان دعلمای کرامو دفتوا دتائید ولو په ترڅ کی دبوش تصویر او دامریکا بیرغ ته اور واچاوه .

دشلترناو دکارکونکو ...

مولوی نورمحمد ثاقب ددغی محاکمی دځنډیدوسبب داسی وښوددمحاکمی په پیل کی له متهمینو سره دایتالیا او جرمنی هیوادونو قونسلانو دکتنی په وخت کی ویلی وُ چی مور ددعوی ددفع لپاره وکیل نیسو خو دوی په دی کارکی زر بریالی نه شول چی ترننه یی دمحاکمی جریان وځنډاوه.

پرون دمتهمینو ددعوا وکیل عاطف علیخان او یوتن دهغه همکار ستری محکمی ته راورسیدل دشرعی محاکمی دمدافعی دپیل لپاره دوکالت دوثیقی لرل ضروری دی لکه څنګه چی وکیل عاطف خان دغه وثیقه نه لرله نومحاکمه له پرون ورځی نه نن ته ځنډیدلی ده .

محترم ثاقب په دی اړه دنن ورځی دجریان په هکله وویل :

نن به دشلترناو موسسی متهم کارکوونکی دځان لپاره په نیول شوی وکیل درضایت نیولو لپاره دستری محکمی مقرته حاضر بری درضایت او په دی هکله ددووتنو شاهدانو له نیولو وروسته به دوکالت شرعی وثیقه تکمیل او دمحاکمی جریان به پیل شی.

دمتهمینو وکیل ته دافغانستان دجزایی قوانینو دغو بنتل شویو معلوماتو په اړه پوره ډاډ ورکړشوی او هم ورته ویل شوی دی چی هغه هروخت کولای شی له دغو نیول شو و تورنوکسانو سره وګوری متحرم ثاقب داهم وویل چی زمور په قضا ،دامریکا احتمالی حمله او په دی اړه کېدونکی تبصری کومه اغیزه نه شی کولای او زمور محکمه به دعدالت یوه نمونه وی.

درشفاخانه کارته ...

دعوت و ارشاد وزارت امر بالمعروف ونهی عن المنکر دایرگردید.

محترم رئیس دعوت وارشاد دررابطه به اقامه معروف و ازاله منکرات اطاعت از اوامر الهی ، اجتناب از منکرات و اعمال نامشروع صحبت نموده و ظایف ومکلفیت های بعدی طبیبان و کارکنان آن شفاخانه را درامر خدمت به مریضداران برجسته ساخت.

طبق یک خبر دیگر جلسه ارشادی دیروز درمدرسه استقلال تدویر گردیددراین جلسه که به اشتراک استادان و طالب العلمان آن مدرسه دایر گردیده بود رئیس دعوت وارشاد وزارت امر بالمعروف ونهی عن المنکر پیرامون موضوع صحبت نموده از استادان وطالب العلمان آن مدرسه خواست تا از منکرات واعمال نامشروع اجتناب ورزند.

سودان پرافغانستان ...

پوری دنیویارک او واشنګټن په انتحاری برید ونوکی اسامه بن لادن دلاس لرلو په اړوند داسی نبی نبانی او باوری اسناد وړاندی کړی شوی ندی.

ده زیاته کړیده په افغانستان باندی دامریکا احتمالی برید هیڅ قانونی اړخ نلری او له نړیوالو قوانینو سره بشپړمغایرت لری.

نیول شوي خبریال ...

همکاری د امنیتی موظفینو لخوا دننګرهار ولایت ددور بابا په ولسوالی کی ونیول شوه .

داکسپرس نیوز ورځپانی ژورنالستی میرمن ایوان ګریدلی په هغولومړنیو تحقیقاتو کی چی له دی څخه شویدی څرګنده کړیده چی دپاکستان په اسلام اباد کی د تکسی چلوونکی لیاقت علی لخوا جانعلی ته چی ددغی ژورنالیستی دترجمانی دنده په غاړه لری ور پیژندل شویده او وروسته دننګرهار ولایت دکامی ولسوالی او سیدونکی نقیب الله ته معرفی شویده او دده په همکاری دافغانستان خاوری ته راننوتی ده او دسیمی د خلکو په همکاری دامنیتی موظفینو لخوا ونیول شوه .

دغی ژورنالیستی د تحقیقاتو په بهیر کی ویلی دی .

دافغانستان دخلکو دژندانه دحالت د څرنګوالی په باب د ریوټ دبرابرولو په خاطر افغانستان ته راغلی ده او خپل قانونی سندونه یی په اسلام اباد کی پرینبی دی

دغی ژورنالیستی د تحقیقاتو په بهیر کی په خپل دغه عمل باندی پیښیمانی څرګنده کړیده او دا کار یی احمقانه بللی دی میرمن ایوان ګریدلی د جاسوسی په تور نیول شویده او دتحقیقاتو بهیر یی دننګرهار ولایت داستخباراتو په ریاست کی دوام لری .

پرافغانستان حمله به ...

داستازو دمدرسو دطالب العلمانو او دنورو هیوادوالو په ګډون وشوی په غونډو کی برخه والو یو شمیر علمای کرامو قوماندانانو او امارتی چارواکو په افغانستان باندی دامریکا داحتمالی یرغل او دهغه د راتلونکی منفی نتیجو په باب خبری وکړی .

وینا والو په افغانستان د باندی دامریکا احتمالی یرغل او دافغانستان اسلامی امارت داسلامی نړی په وړاندی دامریکا دغیر منطقی او ناسم سیاست دغندلو په ترڅ کی څرګنده کړه چی په افغانستان باندی دامریکا د یرغل او دجګړی دپیل په صورت کی دغه جګړه یوازی په افغانستان پوری منحصره نه پاتی کیږی او دجګړی داور لمبی به دسیمی هیوادونو ته هم خپری شی .

ویناوالو داسلامی هیوادونو له مشرانو او واکمنانو څخه وغوښتل چی دمسالی پهحساسیت باندی په پوهیدو سره په جدی توګه په اقدام لاس پوری کړی او دامریکا دیرغل په وړاندی دافغانستان له خلکو سره د یووالی او پیوستون په څرګندول سره دامریکا د شیطانی سیاست او تفرقه اچوونی مخه و نیسی او پری نږدی چی امریکا له دی زیات مسلمانان ملتونه له یو بل څخه جلا وساتی .

دغه راز ویناوالو دغونډو له برخه و الو څخه وغوښتل چی هره ګړی دپردیو پوځونو په وړاندی جهاد او مبارزی ته تیار و اوسی او دخپل هیواد دلویشت لویشت خاوری دفاع وکړی .

په دغو غونډو کی برخه والو دالله اکبر په نارو او مره دی وی امریکا د شعارونو په ورکولو سره خپلی ولولی څرګندی کړی او اعلام یی وکړ چی دهیواد ددفاع په لاره کی هره شیبه جهاد او قربانی ته تیار دی .

په هغی پراخه غونډه کی چی دریاست الوزرا اقتصادی مرستیال او دختیځ زون د تنظیمه رئیس محترم مولوی عبدالکبیر او دځینو امارتی چارواکو هریو دلغمان دوالی محترم مولوی محمد اسحاق اخند زاده ، محترم مولوی سعید الرحمن حقانی ، محترم مولوی عبدالباقی ، محترم مولوی نجیب الله حقانی ، محترم مولوی سید عصمت الله عاصم، او دلغمان ولایت دامارتی چارواکو او زرګونو تنو خلکو په ګډون ددغه ولایت دمرکز مهترلام بابا په جامع جومات کی برابره شوی وه دپلان ، سرحدونو او قبایلو دچارو او د فوائد عامی دوزارتونو محترمو معینانو او دلغمان ولایت دمرکز او دبیلابیلو ولسوالیو مخورو او دخلکو استازو په افغانستان باندی د امریکا د احتمالی برید په باب خبری وکړی او ددغه ولایت دخلکو استازو دامریکا ددغه عمل د غندلو په ترڅ کی دهیواد ددفاع په لاره کی خپل بشپړ تیاری څرګند کړ .

دغه راز دلوګر ولایت دمحمدآغی په ولسوالی دسمنګانو ولایت ، کندوز ، نیمروز ، جوزجان ، ارزګن ، کاپیسا ، تخار او دمیدان وردګ دچک جلګی او داپهر دادپه ولسوالیو کی همدا راز د فاریاب ولایت مرکز په ولسوالیو کی د زابل ولایت د ارغنداب په ولسوالیو کی او ننګرهار ولایت په مرکز او ولسوالیو کی په افغانستان باندی دامریکا د احتمالی یرغل ا وډظاهر شاه دڅرګند ونو په باب خبری وشوی او دعلمای کرامو له پریکړی سره سم یی دهیواد او ددفاع په لاره کی خپل تیاری څرګند کړ .

تاکلي هيات خپل ...

دغه هیات چی په ترکب کی یی د علومو اکادمی لوی رئیس محترم مولوی خلیل الله فیروزی دشهیدانو او مهاجرینو دچارو وزارت معین محترم رحمت الله واحد یار ، دحج او اوقافو وزارت معین محترم مولوی ارسلان رحمانی ، محترم مولوی حمید الله قایق دعلومو اکادمی دلوی ریاست مرستیال محترم مولوی فریدالدین محمود ، محترم محمد نعیم کوچی ، محترم مولوی عبدالغفور او محترم طالب چا ن ډکی شامل دی پرون دخوست له والی محترم ملا عبدالروف عارف سره ددغه ولایت په مقر کی وکتل او د علاقی ور یو لړ مسلو او موضوعګانو په باب خبری اتری وشوی او لازم تصمیمونه ونیول شول .

دیوبل خبر له مخی دغه هیات د خوست پکتیا او د پکتیکا د ولایتونو د قومونو د استازو او مخورو په هغی پراخه غونډه کی ګډون وکړ چی دخوست ښار په جامع جومات کی برابره شوی وه . دغونډی په بهیر کی د وروستیو ملی او نړیوالو پیښو او جریاناتو په باره کی خبری اتری وشوی او دامنیتی حالت د ښه والی او داسلام د مبین دین او دهیواد او خلکو د دښمنانو د ناوړو پلانونو د شنډولو په لاره کی لازم تصمیمونه ونیول شول او ددغو قومونو استازو دهیواد ددفاع او له اسلامی امارت سره دهمکاری په لاره کی خپل تیاری څرګند کړ .

مسابقات ...

ولایت فاریاب در میدان ورزشی پارک شاروالی شهر میمنه راه اندازی گردیده است د ر نتیجه مسابقه پربروز ی که بین تیم های فوتبال سعادت و اتحاد ان ولایت صورت گرفته تیم فوتبال سعادت برنده مسابقه گردید .

په قادس کي ...

دبادغیس دوالی محترم مولوی ولیجان په مشری او ددغه ولایت دجهادی قوماندانانو او چارواکو په ګډون جوړه شوه دبادغیس ولایت د قادس په ولسوالی کی د اسلامی اردو د میشتو قطعاتو او جزوتامونو د لوړ جنګی مورال په باب او ردی خبری وشوی او داسلامی نظام د ارزښتونو ددفاع په لاره کی دهغوی راتلونکی مسئولیتونه مشخص شول .

امریکا پاکستان ته ...

داقتصاد د بیا رغونی او او خوځښت په لاره کی ولګیږی . په پام کی دی چی ددغو پیسو له پاتی برخی څخه یی دپاکستان په اسلامی جمهوریت کی دافغانی مهاجرینو د ژوند دتامین لپاره کار واخستل شی .

تیره اوونی دامریکا متحده ایالاتو هغه بندیزونه چی دپاکستان پرخلاف داتومی ازمایښتونو په اړوند لګولی وو هم لغوه اعلام کړل .

په نوره نړۍ کی پېښې او بدلونونه

نیویارک:

دنیویارک او واشنګټن دوروستیو پیښو په نتیجه کی تراوسه پوری په نیویارک کی شل زره تنه دیته اړشویدی چی له خپلو کورونو څخه ووځی.

دنیویارک ټایمز ورځپانی دخبرله مخی په ۱۸۰۰ میلادی کال کی په نیویارک کی دوبادناروغی له خپریدوڅخه وروسته دادنیویارک دخلکو دیرسترلومړنی مهاجرت دی.

واشنګټن:

دامریکا په متحده ایالاتوکی دواشنګټن او نیویارک په ښارونو باندی دتروریستی عملونو او بریدونو په اړوند تراوسه پوری څه دپاسه څلورسوه اتیاتنه نیول شویدی.

زیاترو تحلیلګرانو ددغو بریدونو عاملان خپله امریکانی اتباع او ددغه هیواد دحکومت مخالف سازمانونه بللی دی.

ددغو برید ونو په نتیجه کی چی دروان میلادی کال دسپتامبر دمیاشتی په ۱۱ نیټه وشول په زرګونو تنه ووژل شول.

شمالی ایرلند

دشمالی ایرلند دلورګن په ښارکی یو مشهور کاتولیکی ژورنالست په عام محضر کی په ډزو سره ووژل شو.

دغه خبریال چی دایرلند دسندی ورد ورځپانی لپاره دپروتستانو چریکانو په باب ریوټو نه برابرول یوزیات شمیر خلک یی ځان ته دښمنان کړیدی ده ته څوځلی دوژلو ګواښن هم شوی وه.

ددغه ناوړه قصد مسؤلیت تراوسه پوری چا په غاړه ندی اخیستی.

نیویارک :

پولیس نیویارک دیروز با دریافت خبر مربوط به بمگذاری در عمارت امپایر ستیت آن شهر این عمارت را از افراد تخلیه نمود .

بگزارش منابع خبری بین المللی عمارت امپایر ستیت تا کنون د وبار در نتیجه چنین اخطار ها از افراد تخلیه شده است عمارت اپایر ستیت بعد از عمارت مرکز تجارت جهانی نیویارک دومین عمارت بلند ودر حال حاضر بلند ترین عمارت ایالات متحده امرکیا تلقی میگردد .

مسکو:

اخبراپولیس مسکو درشب تجلیل یکي از مراسم روسها در پارک مرکزي مسکو چند جسدمرده زن ومرد روسي را کشف نمود که ساعت هاي طولاني از مردن آن ها سپري شده بود .

به نقل ازمطبوعات محلي روسیه پولیس که تعداد اجساد و هویت آن را افشا نه نموده به مطبوعات گفته که حداقل دوشبانه روز از هلاکت آن ها سپري شده بوده است پولیس ظن اینکه این اشخاص توسط کسي بقتل رسیده ویا مورد تجاوز قرارگرفته آنها را به داکتر راجع ساختن و داکتران نظر دادند که هلاک شده گان مردان و زنان جواني بوده اند که دراثر افراط به مواد مخدر و شراب ابتدا بیهوش گردیده و بعداً به نسبت اینکه کسي به کمک شان نرسیده درهرکنج وکنار جان باخته اند تا وقت کشف اجساد توسط پولیس هیچ خانواده از فقدان آن ها پولیس را اطلاعي نداده است .

هشدار وزارت ...

احتمالی بیشتر هوشدار داداه است .

وزارت خارجه امریکا طی بیانیه اعلام داشته است که این نگرانی ها ناشی از تهدید های لفظی است که از جانب بعضی گروه ها صورت گرفته است در بیانیه از اتباع امریکائی در سرار جهان خواسته شده است که با در نظر داشت شرایط و موقعیت شان به تدابیر لازمه جهت امنیت شان متوسل گردند

این نگرانیها تنها و تنها از وقوع حوادث تروریستی منشاء نگرفته بلکه احساسات ضد امریکا ئی در جهان نیز به آن افزوده است .

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهدداد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتی بگذارید

SHARIAT DAILY
Published by:
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:Mawlwi. Assadullah.Haidari
Editor :M.Abrahim.Nabil
Composed by:Ahmad Jawed .Faqeer.